بسم الله الرحمن الرحیم

## په ډیموکراسی کې بې کچې ناامنی او د دولتونو غمجنول

## (ژباړه)

د رسنیو څښتنان، سیاستوال او خلک په رسینو، د لیږد رالیږد وسایلواو نورو ځایونو کې د یوه زده کړیال د وژل کېدو او په پوهنتونونو کې د اسلامي حلارې په اړه خبرې کوي. په داسې حال کې چې دا لومړۍ پېښه نه ده، د ډیموکراتیکو نظامونو تر چتر لاندې د خلکو پر ژوند، امنیت، د ستونزو پر حل او ژوند کولو لوبې کېږي، چې دا به وروستی ځل هم نه وي. د تلیفونونو غلا کول، له موټر سایکلونو او نورو وسایلو په ګټه اخیستنې غلاوې، په کورونو کې خلکو ته ګواښ کول، د زده کړیالانو او ځوانانو له لورې د چاقو ګرځول او دې ورته نور د وېرې او وحشت خبرونه هغه څه دي، چې د خلکو ژوند یې له خطر سره مخ کړی دی. دغه راز پولیس یې اړ کړي، څو موټرسایکلونه راټول کړي ان ځینې کسان اړ شول خپل موټرسایکلونه په عام محضر کې وسوځوي. اوس پوښتنه دا ده، چې ایا د پلازمېنې په زړه کې د دولت د له منځه وړلو لپاره طرحه جوړه شوې، که د یوه کس د کړنو عادي واقعیت دی؟

څو کاله مخکې د ستراتیژیکو پروګرامونو په پار، ځینې مرکزونه جوړ شول، چې له عربي پسرلي وروسته قضیو او د هغو غبرګونونو په اړه یې بحث کاوه، په ځانګړي ډول مصر، یمن، سوریه، لیبیا او هغه ستونزې چې تونس ورسره مخ و. د KGB پخواني مامور یوري بیز مینوف په یوه لکینه کې د یوه دولت د له منځه وړلو، بې ځایه کولو او پر ملتونو حاکمیت کولو په اړه بحث کړی دی. خو هغه څه چې اوس زموږ پام وراړوي، د ۲۰۱۹م، د اپرېل ۱۱مه، د سوډان پېښې دي، چې د دولت د له منځه تلو سره نیږدې ورته والی لري. د له منځ وړلو لپاره یې چې ستراتیژیک کار پوهان، متفکران او سیاستوال کوم پړاوونه وړاندې کوي، له دې پړاوونو سره ورته والی لري. دغه راز د یوه دولت او د هغه د نظم له منځه وړلو څلور پړاوه تیوري د پلي کېدو په حال کې ده. درېیم پړاو یې چې یو لنډمهاله پړاو دی او د (بحران) پړاو په نامه یادیږي، له دوو میاشتو، تر دریو میاشتو یا هم ممکن تر دې زیات وخت ونیسي. په دغه پړاو کې: لانجې، د ناامنۍ له امله جنجالونه، د داخلي جګړو پراخېدل، دولتي بنستونه او سازمانونه، لکه پولیس، اردو او محکمې کمزورې او قانون تر پښو لاندې کېږي. د بیو د لوړوالي تر څنګ، د اړینو خدمتونو او لومړنیو اړتیاوو نشت، په ټولنه کې په چټکۍ د فقر زیاتوالی، ویجاړ اداري سیستمونه او بالاخره دولت له منځه تلو ته تیاریږي. که موږ دغه پروسه د سوډان په روان حالت کې، په خپل حال پرېږدو، نو هغه وخت به پوه شو، چې دغه طرحه او سناریو په وروسته پړاو کې ده او خبرداری ورکوي، چې سوډان د یوه دولت په توګه د له منځه تلو په حال کې دی او دا د لمر په شان ښکاره ده، چې هېڅ ډول څېړنې او بحث ته اړتیا نه لري.

امنيت د ټولنې ارتيا او له لومړيتوبونو ګڼل کېږي، چې خلک اړتيا ورته لري او دولت يې بايد تامين کړي. رسول الله صلی الله عليه وسلم لکه څنګه چې په الادب المفرد، صحيح بخاري او د ترميذي په سنن کې راغلي، داسې فرمايي:

«مَنْ أَصْبَحَ مِنْكُمْ آمِناً فِي سِرْبِهِ مُعَافاً فِي جِسْمِهِ عِنْدَهُ طَعَامُ يَوْمِهِ فَكَأَنَّمَا حِيزَتْ لَهُ الدُّنْيَا» (رواه ترميزی و ابن ماجه)

***ژباړه:*** *هغه څوک چې خپله ورځ په داسې حال کې پیل کړي، چې تګ راتګ يې په امنيت کې وي، مريض نه وي او ورځنۍ خواړه ولري، داسې دی لکه ټوله دنيا چې د ده وي.*

همدارنګه له انس بن مالک څخه د بخاري په الادب المفرد کې روايت شوي، هغه وفرمايل: رسول الله صلی الله عليه وسلم له غوره، څوانمردو او مېړانو خلکو څخه و؛ د مدينې خلک يوه شپه له يوې ويښې سره مخ شول، خلک په لاره روان وو او چيغې يې وهلې، رسول الله صلی الله عليه وسلم د هغوی پر لور ور روان و او فرمايل يې: «لَنْ تُرَاعُوا لَنْ تُرَاعُوا» هېڅکله مه وېرېږئ، هېڅکله مه وېرېږئ. په داسې حال کې چې له هغه صلی الله عليه وسلم سره توره هم وه، د ابي طلحه پر آس سپور و، چې کته يې هم نه درلوده او فرمايل به يې: «لَقَدْ وَجَدْتُهُ بَحْراً. أَوْ: إِنَّهُ لَبَحْرٌ» زه فکر کوم هغه سيند او د هغه څوړ دی.

اسلام همېشه د شرعي احکامو له لارې د امنيت، ارامۍ او ثبات په لټه کې دی. اسلام د هغو کسانو په مخ کې خنډ دی، چې د خلکو امنيت او ثبات له منځه وړي. څکه خو؛ د غله لاس قطع کوي، الله سبحانه وتعالی فرمايلي دي:

﴿وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوا أَيْدِيَهُمَا جَزَاءً بِمَا كَسَبَا نَكَالاً مِنَ اللَّهِ وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ﴾ (سوره مائده: آيه 38)

***ژباړه:*** *د غله؛ هغه که ښځه وي، که سړی، د الهي جزا په توګه د خپل عمل جزا ورکړئ او لاس يې قطع کړئ او يوه شئ، چې الله سبحانه وتعالی توانا او حکيم دی.*

اسلام د امنيت رامنځته کولو او خلکو د امنيت په پار، دولت په مبارزه او جګړې مکلف ګرځولی دی، لکه څنګه چې الله سبحانه وتعالی فرمايي:

﴿إِنَّمَا جَزَاءُ الَّذِينَ يُحَارِبُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَيَسْعَوْنَ فِي الْأَرْضِ فَسَاداً أَنْ يُقَتَّلُوا أَوْ يُصَلَّبُوا أَوْ تُقَطَّعَ أَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُمْ مِنْ خِلَافٍ أَوْ يُنْفَوْا مِنَ الْأَرْضِ ذَلِكَ لَهُمْ خِزْيٌ فِي الدُّنْيَا وَلَهُمْ فِي الْآخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ﴾ (سوره مائده: آيه 33)

***ژباړه:*** *د هغو خلکو جزا چې له الله تعالی او رسول الله صلی الله علیه وسلم سره جګړه کوي او د ځمکې پر مخ فساد خوروي، اعدام ده. یا یې دې یو لاس له مقابلې پښې سره قطع شي او یا دې له هغې خاورې چې پکې اوسیږي، تبعید شي. دا په دنیا کې د دوی رسوایي او ذلت دی او په اخرت کې عظیمه جزا لري.*

بلې دا د یوې خاورې او دولت د یووالي ساتلو لاره ده، همدارنګه د هغه چا لپاره تر ټولو ښه نظم ورکوونکې ده، چې د دولت یا قانون پر وړاندې درېږي. نو په دې پوهیږو، چې د اسلام احکام، د خپلو غوره لارښوونو او قوانینو په وسیله د خلکو امنیت ساتي. پر احکامو ټیکاو یې تقوا اساس ګرځولې او ویلي یې دي، چې مسلمان هغه څوک دی، چې د ژبې او لاس له زیان څخه یې خلک په امن وي. که مسلمان تقوا نه تر سره کوله، نو په هغه وخت کې اسلام جزا په پام کې ورته نیولې ده، چې دولت یې ضرور پلې کوي. مشهور متل دی وایي: «امنیت د پاچا ابرو او حیثیت دی» د عثماني خلافت په وروستیو کې یوې مسیحي کورنۍ خپله لور ورکه کړې وه، د کورنۍ غړي یې د شپې ډېر غمجن ناست وو، چې دروازه وټکېده او له پولیسو سره یو ځای یې لور ورننوته! هغوی یې د لور له ورتګ څخه ډېر خوشحاله شول او له هغو پولیسو یې مننه وکړه. پولیسو هغوی ته وویل، له موږ څخه مننه مه کوئ، ځکه ستاسو د لور امنیت د پاچا ابرو او حیثیت دی. د مسلمانانو په دولت یعنې خلافت کې امنیت همدومره ارزښت لري.

له شک پرته چې اسلام د امنیت ستونزه په ښه توګه حل کړې او دولت یې اړ کړی، چې تر خپلې وسې د امنیت په رامنځته کولو کې هڅه وکړي. خو د سیکولار انتقالي دولت د خلکو د ستونزو د حل لپاره داسې دی، لکه په توره شپه کې چې ړوند کوم څه لټوي، ځکه ورځ تر بلې په ستونزو کې ډوبیږي. که څه هم د ستونزو په اوج کې یې وسلې او موټرسایلکونه راټول او ودرول. که څه هم دغه پرېکړې په څو ښارونو لکه د دارفور نیالا او نورو ښارونو کې تر سره شوي او حالت د خرابېدو په حال کې دی.

دغه امنیتي بحران په دوو ټکو کې خلاصه کولی شو:

۱ـ له دولت سره د امنیت د مفکورې نشت؛ د پانګوالۍ تپل شوي نظام د یوې مړې ډوډۍ پر سر، په هېواد کې لانجه جوړې کړي او هر یو یې وایي، زه یې باید تر لاسه کړم، نه ته. د پانګوالۍ نظام د ژوند په ډګر کې داسې سیالۍ رامنځته کړي، چې ټول ارزښتونه پکې له منځه تللي دي. ان د خپلې اردو او سازمانونو په وسیله لکه؛ بریټون وودز سازمان، نړیوال بانک او نړیوال صندوق. د سره دریا په کچه زموږ د هېوادونو پر سر د ښکېلاک سیالي روانه ده؛ هغه څه چې ناپایداري او امنیتي ګډوډي یې رامنځته کړې ده. دا په نړۍ کې د امریکا سیاست دی، چې د خپلو ګټو لپاره جنجالونه رامنځته کوي.

۲ـ د پلازمينې په داخل کې د وسله والو شبه نظاميانو زياتېدل؛ هغه څه چې له وسله والو خوځښتونو سره په دې اړه د سولې پرېکړه شوې وه، خو اوس يو امنيتي ګواښ جوړوي او د زياتو نښتو خبرداری ورکوي، لکه د بري سيمې بالفعله نښته. الجريده ورځپاڼې په ۲۰۲۱/۳/۱۹ نېټه يو راپور خپور کړ، چې پکې د درېيمې جبهې (تمازج) رييس قومندان محمد علي قريشي، چې د جوبا سولې هوکړه ليک يې لاسليک کړی، د دغې نښتې جزيات له يوې ډلې سره، چې ځان په (تمازج) پورې تړلی ښيي، داسې بيانوي: د تمازج ځواکونو په وسيله پر هغه ډله بريد وشو. په هغوی کې داسې کسان وو، چې پوځې جامې يې پر تن وې؛ کله چې پوښتنه ترې وشوه، چې ولې له هغوی سره ونښتئ، ايا دا کار مو د پوليس دنده نه ده؟ هغه وويل؛ پوليسو او استخباراتو ناوخته کړه، ځکه ځواکونه د قضيې د حل لپاره لاس په کار شول (هغه څه چې د لانجې او خلکو د وېرې لامل وو) په يوه هېواد کې څو شبه نظامي جبهې يو لوی امنيتي ګواښ دی؛ خو په اسلام کې واحد قدرت اصل دی. د داخلي امنيت دنده، سره له ټولو جزياتو، د خلافت دولت اساسي قانون کې، چې د حزب التحرير له لوري ترتيب شوی، بيان شوې ده. پوليس او اردو چې د هغې برخه دي، په غاړه يې لري. د دغه قانون په (۷۰) مخ کې داسې راغلي: «د داخلي امنيت ارګان، هغه اداره ده چې د داخلي امنيت د ټولو چارو مشري ورتر غاړې ده او د هر هغه څه مخه نيسي، چې داخلي امنيت ګواښي. د اسلامي دولت د قلمرو امنيت د پوليسو پر غاړه دی، چې د خليفه له امر پرته اردو ته نه سپارل کېږي او د دغه ارګان رييس (د داخلي امنيت مدير) نوميږي. دغه ارګان ولايتي فرعي څانګې لري، چې د داخلي امنيت د ادارو په نامه ياديږي او د هرې ولايتي ادارې رييس، د اړوند ولايت د پوليسو د قومندان په نامه ياديږي.»

که حالت په همدې ډول روان وي او خلک د اسلام پر اساس د واقعي تغير لپاره راپورته نه شي، نو له شک پرته چې د اسلامي خاورو په هېوادونو کې به د کفارو طرحې يوه پر بله پسې پلې شي او دغه له يوبل لرې هېوادونه به تيت پرک کړي. له اسلام پرته، د ستونزو له دغه درياب څخه د راوتو بله لار نشته؛ هغه نظام چې د خلافت دولت، چې په نيږدې راتلونکي کې به تاسيس شي، پلی کوي او هغه وخت به د مسلمانانو خليفه ته ويل کېږي: «په عدالت سره دې حکومت وکړ، وروسته دې امنيت رامنځته کړ او ارام ويده شوې.»

**ليکوال: استاد ابراهيم مشرف**

**د حزب التحرير ولايه ـ سوډان مطبوعاتي دفتر غړی**

**ژباړن: حبيب الله**